روزل شوی نسل
نیکمرغه افغانستان

هفته نامه
معارف
اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۱۹ ماه سنبله سال ۱۳۹۶

# د لیک لوست نړیواله ورځ ونمانځل شوه

د افغانستان د پوهنې وزارت د یوې لویې غونډې په ترڅ کې د لیک لوست نړیواله ورځ ونمانځله. په دغه غونډه کې د ولسمشرۍ مانۍ دویم مرستیال قانونپوه سرور دانش، د هېواد لومړۍ مېرمنې رولا غني، د پوهنې وزارت د عمومي زده کړو مرستیال ډاکټر محمد ابراهیم شنیواري، د سواد زده کړو مرستیال ډاکټر سردار محمد رحیمي، د کابینې یو شمېر غړو، د سواد زده کړو مسوولینو، کارکوونکو او یو شمېر نورو چارواکو برخه لرله.

د غونډې په پیل کې د ولسمشر دویم مرستیال قانونپوه سرور دانش د لیک لوست د نړیوالې ورځې په نمانځغونډه کې یادونه وکړه، چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د بې سوادۍ د له منځه وړلو په برخه کې مهم ګامونه او چټ کړي او په دې برخه کې به لا جدي هلې ځلې وکړي.



نوموړي په افغانستان کې د سواد زده کړې مخینې ته په اشاري وویل، په افغانستان کې له بې سوادۍ سره مبارزه د شاه امان الله خان له وخت راهیسې پیل شوې او نوموړي لومړنی کس و چې په هېواد کې یې د بې سوادۍ د له منځه وړلو په برخه کې ګامونه اوچت کړل.

ښاغلي دانش زیاته کړه، چې هغه مهال د شاه دوشمشېرې ولي په جومات کې د لیک لوست لومړني ټولګي جوړ شوي وو او خلک هڅول کېدل چې لیک لوست زده کړي...

(۲مخ)

# هفتهٔ شهید در وزارت معارف تجلیل گردید

طی محفلی که به مناسبت هفتهٔ شهید برگزار گردیده بود، معینان وزارت معارف محترمین دکتور محمد شفیق صمیم معین تعلیمات اسلامی، دکتورسید حمیدالله معین مالی و اداری، پوهندوی رحیل محمد فرملی معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی، محترم فضل احمد معنوی رئیس پیشین کمیسیون انتخابات محترم مولوی محمد محسن دانش نماینده شورای سرتاسری علمای افغانستان و محترم محبوب الله صدیقی مشاور ارشد وزیر معارف در امور پارلمانی، رؤسای ریاست های مرکزی وزارت معارف، استادان، اشتراک داشتند.



در ابتداء محفل با قرائت آیاتی چند از کلام الله مجید آغاز گردید و متعاقباً باالنوبه محترم دکتور محمد شفیق صمیم معین تعلیمات اسلامی وزارت معارف، محترم پوهندوی رحیل محمد فرملی معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی وزارت معارف، محترم فضل احمد معنوی و محترم مولوی محمد محسن دانش عضو شورای سرتاسری علمای افغانستان ضمن یادبود از شجاعت، درایت و قهرمانی های قهرمان ملی کشور، مجاهدت ملت سلحشور افغانستان را ستوده و به روح پاک شهدای راه آزادی و استقلال افغانستان بخصوص شهدای قیام علیه طاغوت قرن (کمونیزم) اتحاف دعا نمودند.

در اخیر، محفل با دعائیه صلح سرتاسری و تحکیم اخوت اسلامی وحدت ملی در افغانستان به پایان رسید.

# سنگ تهداب لیسهٔ بولان ولایت زابل گذاشته شد

سنگ تهداب لیسهٔ بولان ولایت زابل به اشتراک رئیس و مسوولان ریاست معارف ولایت زابل در حالی که بزرگان قومی و شماری از مسوولان و شاگردان مکاتب نیز شرکت داشتند، در ولسوالی سیوری ولایت زابل گذاشته شد.

تعمیر لیسهٔ بولان بصورت پخته و اساسی که دارای ۸ اتاق درسی میز و چوکی و سایر ضروریات مجهز خواهد بود به مصرف مجموعی ۱۶ میلیون افغانی از بودجه انکشافی وزارت معارف اعمار می گردد.

هم چنان بزرگان قومی و اهالی این منطقه از اعمار این مکتب ابراز خرسندی نموده و وعده هر گونه حمایت را از برنامه های این وزارت اعلان داشتند.

همچنان کار ساختمان لیسه دهولا رباط ولسوالی شاجوی که چندی قبل آغاز گردیده



تکمیل و به بهره برداری سپرده شد. قرار است که کار اعمار دو باب مکتب دیگر نیز عنقریب آغاز گردد.

## د افغان – ترک ښوونځیو زده کوونکو د سږکال په نړیوالو المپیادونو کې ۱۷۱ مډالونه ګټلي

د افغانستان د پوهنې وزارت د افغان – ترک ښوونځیو هغه ممتاز زده کوونکي د یوې لویې غونډې په ترڅ کې وستایل، چې د روان ۲۰۱۷ کاَل په نړیوالو المپیادونو کې یې ښې لاسته راوړنې لرلې دي.

د یادو ښوونځیو زده کوونکو یوازې سږ کاَل په نړیوالو المپیادونو کې ۱۷۱ مډالونه ګټلي، چې ۶۳ یې د سرو زرو، ۷۶ یې د سپینو زرو او ۳۲ نور یې د برونزو دي.

په هغه غونډه کې چې د آریانا افغان – ترک په عالي لېسه کې جوړه شوې وه، د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو مرستیال ډاکټر محمد شفیق صمیم، د ولسي جرګې یو شمېر غړو، د وزارت مرکزي رییسانو، د افغان ترک ښوونځیو د مشرتابه پلاوي، دولتي چارواکو او د یادو ښوونځیو ښوونکو او زده کوونکو ګډون کړی و.

د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو مرستیال ښاغلي ډاکټر محمد شفیق صمیم په داسې حاَل کې، چې د یادو ښوونځیو د ښوونکو او زده کوونکو هڅې وستایلې، د سږ کاَل په نړیوالو المپیادونو کې یې د افغان ترک ښوونځیو د زده کوونکو د بریا مبارکي وویله، زیاته یې کړه:« د خوښۍ ځای دی، چې د افغان – ترک ښوونځیو زده کوونکي د تېرو څو کلونو په لړ کې په نړیوالو علمي سیالیو کې ښه ځلېدلي او لویې لاسته راوړنې لري، چې دغه افتخارات نه یوازې دوی او کورنیو ته یې ور ګرځي؛ بلکې د ښوونې او روزنې د مسوولینو او د یادو ښوونځیو د مشرتابه د سرلوړۍ سبب هم شوي دي.»

د یادولو وړ ده، چې د افغان – ترک ښوونځیو زده کوونکو له ۲۰۱۷-۲۰۰۳ زیږدیز کاَل پورې په نړیوالو المپیادونو کې ۱۰۴۶ مډالونه ګټلي،...

(۲مخ)

سرمقاله:

## راځئ د پوهې په عاملو د هېواد لويې ګټې خوندي کړو!

لکه څنګه چې درنو لوستونکو، ګرانو زده کوونکو او ښوونکو ته څرګنده ده، تېرو څلورو لسیزو جنګ جګړو زموږ د هیواد، سیاسي، فرهنګي، اقتصادي او نظامي بنسټونه نړولي او زموږ خلك يې له زياتو ستونزو سره مخ كړي دي، نوموړې تپل شوې نیابتي جګړې د نورو زياتو زيانونو تر څنګ زموږ په هیواد کې پوهنیز نظام ته هم ډېرې ستونزې را ولاړې کړې چې رغول يې نه يوازې ډېر وخت ته اړتيا لري، بلکې ډېر مالي لګښت هم غواړي، په تېرو شپاړسو کلو کې نړیوالې ټولنې د افغانستان د پوهنیز نظام د بیا رغولو لپاره ډېرې هڅې کړې او زيات مالي امکانات يې په واك كې ورکړي دي، په زرهاوو ښوونځيو ته وداني جوړې شوې، تعليمي نصاب له سره نوی شوی او د سیمې او نړۍ د هیوادونو له تعلیمي نصاب سره برابر شوی، له نوي نصاب سره سم په میلیونونو ټوکه درسي کتابونه په ښکلي رنګ او صحافت له سره چاپ شوي او په ټولو ولایتونو کې په زده کوونکو وېشل شوي، د ښوونکو په معاشونو کې بدلون را منځته شوی او د نوی ریفورم سره سم د زيات شمېر ښوونکو معاشونه لوړ شوي، د ښوونکو د روزنې د کچې د لوړولو لپاره په سلهاوو دارالمعلمینونه او الحاقي جوړې شوې او دغه راز د هیواد زامنو د مسلکي او تخنیکي پوهې د لوړولو لپاره زيات شمېر مسلکي ښوونځي او بنسټونه جوړ شوي او د هغو لپاره ښکلې ودانې او تخنیکي او مسلکي لابراتوارونه او تخنیکي وسایل برابر شوي دي.

د تخنیکي او مسلکي لېسو او انستیتوتونو لپاره تعليمي نصاب جوړ شوی او ښوونکي ورته روزل شوي، په زرهاوو محصلین بهرنیو هیوادونو ته د تحصيل لپاره لېږل شوي، تر ۱۰۰۱ زيات د اسلامي تعلیماتو مرکزونه، مدرسي او د ارالحفاظونه فعاَل دي او د دې تر څنګ د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې د سواد د زده کړې کورسونه را منځته شوي او خپلو فعالیتونو ته دوام ورکوي.

د يادونې وړ ده، چې د پوهنې وزارت د سواد د زده کړې معینیت د جلالتمآب جمهور رئيس په لارښوونه د جمهوري رياست د دويم مرستیال ښاغلي سرور دانش په مشرۍ په هیواد کې د بې سوادۍ د له منځه وړلو او د دغه بهیر د لا زيات چټکوالي لپاره د سواد د زده کړې ملي کمیټه جوړه کړه، چې «د سواد زده کوونکو لپاره د ملي يووالي» او په هیواد کې د بیسوادۍ د ژر تر ژره له منځه وړلو په مقصد برنامه جوړه او نهايي کړه چې هدف يې د هیواد د ټولو اوسیدونکو لپاره د سواد زده کړې شرایطو برابرول دي. د نوموړې تګلارې له مخې ټولو دولتي او غیر دولتي ادارو ژمنه کړې، چې په خپلو ادارو او وزارتونو کې به د بې سوادي د محوه کولو لپاره هر اړخيزه مرسته کوي او په دې لاره کې به ځان نه سپموي.

دغه راز د جاپان د یونسکو ملي فدراسیون د هیواد په ځینو ولایتونو او له دې ډلې د کابل ښار او شاوخوا ولسواليو کې د سیمه ییزو زده کړو مرکزونه (CLC) جوړ کړی چې د سواد زده کړې تر څنګ به زده کوونکو ته (خیاطي، باغداري، چرمګري، فلز کاري، غالۍ اوبدلو، خامك...) ور زده کوي، څو وکولای شي د ځان بسیاینې په لوري ګامونه اوچت کړي.

هوكې! د پوهنيز نظام د بیا رغونې په برخه کې نوموړې هڅې ډېرې زياتې دي؛ خو بيا هم بسنه نه کوي، لا هم ډېر ښوونځي وداني نه لري، په زياترو ښوونځيو کې لابراتوارونه، کمپیوټري خونې، کتابتون، د مسلکي ښوونکو (کیمیا، فزیك او رياضي) د کمبود ستونزه موجوده ده او دغه راز نورې ډېرې ستونزې.

يادو ستونزو ته په کتو سره موږ نور ډېر اورد واټن په مخكې لرو، چې بايد ووهل شي، که د هیواد پوهنيز نظام لکه څنګه چې د هیواد لويې ګټې يې غوښتنه کوي جوړ نشي د هیواد ټول، سیاسي، فرهنګي، اقتصادي... ډګرونه به هدف ته د رسیدو په لار کې نیمه خوا پاتې وي؛ نو موږ په دې توګه له خپلو درنو بین المللي همکارانو او دغه راز د هیواد له منور قشر، فرهنګیانو د پوهنیز نظام د سمسورتیا له مینه والو، والدینو او د هیواد غني قشر هیواد پاله پانګه والو څخه هیله کوو چې د خپل هیواد سمسورتيا، بيا رغونې او اقتصادي او پوهنيزې ښېرازتيا لپاره د پوهنې له وزارت او د پوهنې له کاروان سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي او پرې نږدي چې زموږ د ګران هیواد دښمنان زموږ د هیوادوالو په بې علمه ساتلو سره خپلو ناروا او شومو هدفونو ته ورسيږي، په هیواد کې روان حالت، جنګ او جګړې چې زموږ په خلکو عمدي، قصدي تپل شوي د ناپوهۍ زيږنده ده، چې د پرديو له خوا ورته لمن وهل کيږي، موږ يوازې د پوهنې ډيوې په بلولو او پوهې په عاملو سره کولای شو خپلو سیاسي، اقتصادي او فرهنګي موخو ته ورسيږو او بس.

د لومړي مخ پاتې

### د لیک لوست نړیواله...

پوهنې وزارت د سواد زده کړو مرستیال ډاکټر سردار محمد رحیمي په افغانستان کې د سواد زده کړو پر کلني وضعيت او له بې سوادۍ سره د مبارزې په اړه د پوهنې وزارت د پروګرامونو او تګلارو په اړه خبرې وکړې، زياته يې کړه:« پوهنې وزارت ژمن دی چې د نړیوالې ټولنې او ملاتړو بنسټونو په مرسته او همکارۍ په ټولنه کې د سواد کچه لوړه او له بې سوادۍ سره جدي مبارزه وکړي.

ښاغلي رحیمي وويل، چې اوسمهال په افغانستان کې ۶۱ سلنه خلك بې سواده دي او دا يو له تر ټولو لويو او جدي ستونزو څخه ده. هغه په دې برخه کې د اصلاحاتو او د یونسکو موسسې په مرسته د سواد زده کړو د ښوونيز نصاب له چمتو کېدو او دغه راز د خلکو د همکاريو او مشارکت يادونه هم وکړه، چې په خبره يې له دې لارې به وکولای شي په ټولنهکې د بې سوادۍ له منځه وړلو او د لیك لوست پراختيا ته زمینه برابره کړي.

د پوهنې وزارت د عمومي زده کړو مرستیال ډاکټر محمد ابراهيم شینواري هم بې سوادي د افغاني ټولنې د ترقۍ او پرمختګ پر وړاندې يوه لويه ننګونه وبلله او ډاډ يې ورکړ، چې پوهنې وزارت به د خپلو منظمو پروګرامونو پرمټ وکولای شي په ټولنه کې د بې سوادۍ ګراف را ټيټ او خلکو ته د لیك لوست اسانتیاوې برابرې کړي.

د سپتمبر ۸ مه د لیك لوست نړيواله ورځ، چې له تېرو څو کلونو راهیسې يې د افغانستان د پوهنې وزارت له بې سوادۍ سره د مبارزې په موخه نمانځي؛ له ۱۹۶۶ کاَل راهیسې د ملګرو ملتونو د کلتوري سازمان یونسکو له لوري له بې سوادۍ سره د مبارزې، د لویانو، ماشومانو او په ځانګړي ډول زده کړو ته د نجونو د لاس رسي او د ټولنې د اقتصادي او ټولنيز پرمختګ په موخه نمانځل کيږي.

د لومړي مخ پاتې

### د افغان – ترک ښوونځيو...

چې ۳۴۱ د سرو زرو، ۳۶۳ يې د سپینو زرو او ۳۴۲ يې د برونزو دي. د يادو مډالونو يوازې ۱۷۱ يې د سږ کاَل المپیادونو اړوند دي. د يادو لاسته راوړنو ترڅنګ ددغو ښوونځيو ۹۹ سلنه د دولسمو ټولګيو فارغان د (۱۳۹۵/۱۳۹۶) کاَل کانکور آزموينه کې د هېواد بېلابېلو پوهنتونونو ته بريالي شوي او دغه راز د تېرو څو کلونو ۵۵۴۹ تنه فارغان يې د نړۍ د شاوخوا ۵۰ هېوادونو په معتبرو پوهنتونونو کې پر لوړو زده کړو بوخت دي.

## طرح بسیج ملی برای سواد آموزی

با درک اینکه تمام پیشرفت های جامعه امروزی بشری مدیون علوم بوده که انسان ها به اساس تجارب و تتبعات خویش طی سال های متمادی به آن دست یافته ، و امروز توانسته اند با استفاده از آن دنیای بزرگ موجوده را به دهکده کوچکی مبدل نموده و تمام وسایل وسهولت های رفاهی زنده گی خود را فراهم نمایند .

با توجه به ارزش و نقش سازنده سواد و علم در زنده گی، دولت جمهوری اسلامی افغانستان نیز از بدو تشکیل خویش درجنب نوسازی و باز سازی سایرعرصه ها، بخش تعلیم و تربیه را نیز در محراق توجه و در صدرپروگرامهای تجدید و اصلاحی خود قرار داد که با ایجاد و اعمار مراکز جدید تعلیمی و تربیتی جذب و استخدام معلمان جدید و



ظرفیت سازی آنها با شیوه های معیاری تدریس ،نصاب تعلیمی علمی و سرتاسری و تالیف کتب جدید درسی پرداخته وشماری دارالمعلمین های را نه تنها در مرکز ولایات ؛ بلکه مراکز حمایوی تربیه معلم را در ولسوالی ها نیز ایجاد و تأسیس نمود تا معلمان برحال بتوانند در کنارتدریس روزانه ، بعد از وقت اداری به تحصیلات نیمه عالی خویش ادامه دهند .

با توجه به تداوم جنگ ووضعیت نابه سامان امنیتی سال های قبل که متاسفانه عدۀ زیادی از هموطنان عزیز، از نعمت سواد بی بهره مانده بودند ،عطف جدی به بخش سواد آموزی نیز گردید که در زمینه با تأسیس کورسهای سواد آموزی در قراء و قصبات ، جذب معلمان جدید سواد آموزی و سوپرویزران ،تالیف و چاپ کتب سواد آموزی و کتابهای رهنمای معلم کار وتلاش مضاعف نموده و پلان قصیروطویل المدت را دراین عرصه طرح وبه منصۀ اجرا گذاشت.

ضمناً به کمک موسسه فدراسیون ملی یونسکوی جاپان و با استنتاج های علمی از تجارب کشور های مشابه افغانستان ، مراکز آموزشی محلی (CLC)را نیز در شماری از ولایات و از جمله در چند ناحیه و ولسوالی ها در شهر و ولایت کابل ایجاد کرد که هدف از ایجاد این مراکز ، آموزش آموختن یک مسلک ( خیاطی ، سوزن دوزی، باغداری ، چرمگری ، فلزکاری ، نجاری ، قالین بافی و ...) مطابق به نیاز مندی های منطقه درکنار فراگیری سواد برای سواد آموزان است که نتایج ملموسی رابه جا گذاشته است .

اما علرغم اقدامات به خاطر محو بی سوادی در کشور ، کمیته ملی سواد آموزی جمهوری اسلامی افغانستان تحت ریاست جلالتمآب قانون پوه سرور دانش معاون دوم مقام عالی ریاست جمهوری جهت تسریع امحای بی سوادی در کشور برنامۀ بسیج ملی برای سواد آموزان» را بررسی و نهایی ساخت که مهمترین هدف آن فراهم نمودن زمینه سواد آموزی برای همه اتباع کشور می باشد.

درین طرح آموزش سواد به عنوان یک حق مهم ومسلم حقوق اساسی تمام اتباع کشور مورد تأکید قرار گرفته است و یگانه راه پیشرفت ، ترقی و انکشاف اجتماعی در گروکسب و بهره مندی از علوم دانسته شده است. همچنان دراین طرح تمام ادارات دولتی وغیرحکومتی ملزم شده تا در امر امحای بی سوادی در کشور جدوجهد همه جانبه نموده و دراین راستا وزارت خانه ها و ادارات مستقل دولتی تعهد نامه را امضأ نموده است که آماده هر گونه همکاری می باشند.

شایان ذکر است که نه تنها در تطبیق برنامه بسیج ملی برای سواد آموزی بلکه در اجرای تمام پلان ها و پروگرامهای وزارت معارف چه در عرصه تعلیمات عمومی ، تخنیکی ، اسلامیات و غیره باشد ، همکاری و حمایت هموطنان عزیز مابه ویژه علمای کرام حتمی و ضروری می باشد تا با استناد به احکام دین مقدس اسلام واحادیث نبوی (ص) که طلب علم بر زن و مرد مسلمان فرض است ، مردم عزیز ما رابه فراگیری علم که روزنۀ بطرف توحید شناسی و خدا پرستی است ، تشویق و ترغیب نمایند .

وزارت معارف افغانستان مصمم است که با تطبیق پلان های مطروحه و استراتیژیک، از جمله اجرای برنامه بسیج ملی برای سواد آموزان که تحت ریاست معاونیت محترم دوم مقام عالی ریاست جمهوری اسلامی افغانستان پیشبرده می شود ، ان شاءالله می تواند به افق های تابناک با سواد سازی و تقلیل بی سوادی در کشورگام های مؤثری بگذارد .

## غزل

عمربه تیرشي دجنون بندي خانو کې
یوځل که شوې بندي دتورو زلفوزولنوکې

دسترګوپه کونجوکې به بانه کړم لومې لومې
بازان کړي پروازونه ستا دحسن سردروکې

دزړه په بام مې ګرځي ستا دحسن شنې کوترې
دډیروشنو طوطیانو وزرمات شول په دامو کې

مجنون دعشق څپره په ټول عمر هیره نه کړه
لیونیان څیرې ګریوان ډیرمالیدلي بیابانو کې

دعشق په جواری کی (شمال)ځکه ډیراحتیاط کړي
چازړه پکې بایللی دچا اوښکې په لیمو کې

رالیږونکی: عبدالستار

## غزل

خدای دې نه کوي بدرنګه چې دا کلی به بیا وران وي
دوه مین به سره ورك وي ، دوه مین به قاتلان وي

یا به هلته یو څوک ژاړي ، یا به دلته توره شپه وي
یا به هلته چنار سوځي ، یا به دلته جوړ خپګان وي

اوس ددغه وطن خلک دغه دوه له خدایه غواړي
یو یې خپل جانان وطن وي ، یو یې ځان سره جانان وي

کاش چې امن وای زړګیه ، کاش دا خلک متحد وای
دلته یو دی ، هلته بل دی ، دلته هر یو د وخت خان وي

کله غم کړي کله یاد کړي کله داسې غزل لیکي
یو میرویس وي بل پوپل وي تل و یو بل ته حیران وي

رالیږونکی: ناصر

## زړگی

مه وریږه نه لرم دجنګ زړګی
خدای راته راکړی دی ملنګ زړګی

غواړم محبت شم مینه مینه شم
ساتمه دکرکې نه په څنګ زړګی

اوردصداقت کې وریت کباب ښه دی
دازما مین زما پتنګ زړګی

داخو څه ګناه نه ده پیغورنه دی
شي دې بس دعشق په تحمت رنګ زړګی

بس دایورنګي دزړګي وساته
مه ساته سپین غره رنګ په رنګ زړګی

رالیږونکی: فروزان

## غزل

ای دل مرو سوی خطر، گرمیروی لرزان مباش
از رهزنان غافل مشو،از دشمنان ترسان مباش
چون باکسی همره شدی، ازنیمهٔ ره برنگردی
چون از پی مردان روی دیگر ز نامردان مباش
دشمن اگر جانت دهد با او دم از یاری مزن
در دوستی گر جان دهی از دوست رو گردان مباش
گر عاشق مستانه ای، زهد ریایی را بسوز
ور همنشین زاهدی، در حلقهٔ رندان مباش
باد بهاران شو که تا در مقدمت گل بشکفند
چون گرد باد هرزه گرد، دردشت سرگردان مباش
همدست ما گر میشوی، پای کسی دیگر مگیر
با دوست چون پیمان کنی،با غیر هم پیمان مباش
فانی به کیش عاشقان در فکرخود بودن خطاست
یا از سر وجان درگذر یا عاشق جانان مباش

ارسالی: زمزمه

## دو ویژگی

هرکس در او دو خصلت باشد خداوند او را دوست دارد تقوی و حسن خلق

هرکس در او دوخصلت باشد مردم اورا دوست دارند بخشش و رفتار نیک

هرکس در او دوخصلت باشد همسایگانش او را دوست دارند خوش رویی و شرافت در برخورد

هرکس در او دوخصلت باشد برادرانش او را دوست دارند به یاد آوردن خوبی هایشان و فراموشی بدی هایشان

هرکس که دوخصوصیت داشته باشد دانش آموزانش او را دوست دارند تلاش دردفع نادانی هایشان و مهربان بودن با آنها

هرکس که دوخصوصیت داشته باشد فامیلش او را دوست دارند نیکی در معاشرت با آنها فهم و درک مشکلات آنها.

هرکس که دوخصوصیت داشته باشد روسایش او را دوست دارند اطاعت به نحو احسن از آنها و درستی در کارش در نزد آنها

هرکس که دوخصوصیت داشته باشد خدا و مردم او را دوست دارند انجام کار نیک ودوری از آزار مردم

ارسالی: عابده عابدی

## از شیطان بر حذر باش

از شیطان برحذر باش که باورت را با آرای مختلف تباه نکند برحذر باش که کردارت را باهوای نفس تباه نکند برحذر باش که علمت را با ادعا تباه نکند برحذرباش که بندگی ات را باخود پسندی و تکبر تباه نکند برحذر باش که اخلاقت را با غرور تباه نکند و برحذر باش که استقامت را نکند.

ارسالی: طوبا

## راز زندگی

**متانت خود را در چهار مورد پاس دار**: وقتی که باعالم تر از خودت در امری گفتگو می کنی، وقتی که با بزرگ تر ازخودت علم می آموزی، در دشمنی با قوی تر ازخودت، وقتی که باکم خورد تر ازخود مناقشه می کنی. **در چهار مورد گرفته مباش**: در مسافرت همراه با دوستان، در شب نشینی با دوستان، در وقت نرمی و مهربانی باهمسر و بچه هایت، دروقت شادی در مجلس قصه گوی مورد اعتمادت. **درپنج مورد ادب نگهدار**: در مکان های عبادت، در مجالس علم، در حضور بزرگان، در سخن گفتن با روسا، در رفتار با غریبان.

ارسالی: عزیز

## انجنیر احمدشاه احمدزی د پوهنې پینځه دیرشم وزیر

گل آغا احمدي وردگ

انجنیر احمدشاه احمدزی د کابل ولایت د بګرامی ولسوالي د ملنګ د سیمې اوسېدونکی دی چې په ۱۳۲۳ هجري لمریز کال زیږېدلی، لومړني او ثانوي زده کړې یې د کابل ښار په مختلفو تعلیمي موسساتو کې سر ته رسولې، د لوړو زده کړو لپاره د کابل پوهنتون د انجنیري پوهنځی ته داخل او هغه یې په ۱۳۴۶ کال بشپړه کړې ده.



ښاغلي انجنیر احمدشاه احمدزي له ۱۳۴۸ څخه تر ۱۳۵۱ کلونو پورې د کرنې په وزارت کې دنده اجرا کړې او په ۱۳۵۱ کلونو کې د یو تحصیلي بورس په مرسته د امریکا متحده ایالاتو ته تللی دی او په ۱۳۵۴ کال کې یې د کالاراډو په دولتي پوهنتون کې ماستري بشپړه کړې ده. نوموړی په همدې کال د سعودي عربستان د ملک فیصل په پوهنتون کې د استاد په توګه دنده اخیستې چې تر ۱۳۵۶ کال پورې یې دغه دنده اجرا کړې ده. ښاغلی انجنیر احمدشاه احمدزی په ۱۳۵۷ کال د ثور له کودتا وروسته افغانستان ته ستون شوی او د اسلامي جمعیت د مرستیال په توګه یې جهادي فعالیت پیل کړی او پېښور ته تللی دی. خو په ۱۳۶۰ کال کې له اسلامي جمعیت څخه جلا او له ښاغلي عبدالرب رسول سیاف سره یو ځای یې د اسلامي اتحاد په نوم نوی جهادي ګوند جوړ کړ. ښاغلی انجنیر احمدشاه احمدزی په ۱۳۷۵ کال کې د پوهنې وزیر وو خو تر هغه د مخه له ۱۳۷۱ کال څخه تر ۱۳۷۵ کال پورې یې د بیا رغونې او کورنیو چارو د وزیر په توګه هم دندې اجرا کړې دي.

Weekly Marif Newspaper
Established 2002, Issue No 219, Month August - September 2017
Ministry of Education Cultural and Social Issue



# دومین کنفرانس هماهنگی مسوولان انستیتوت‌های تعلیمات تخنیکی و مسلکی برگزار شد

پوهندوی رحیل‌محمد فرملی، معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی وزارت معارف، در دومین کنفرانس هماهنگی مسوولان انستیتوت‌های تعلیمات تخنیکی و مسلکی مرکز و ولایات کشور که به کمک مالی موسسه «GIZ» کشور آلمان در تالار انستیتوت ساختمانی و جیودیزی کابل برگزار شده‌بود، اشتراک کرد.

آقای فرملی در این کنفرانس ضمن استماع مشکلات، پیشنهادات و سوالات اشتراک کننده گان به مسوولان مربوطهِ در معینیت وظیفه سپرد تا به موارد یادشده که از سوی اشتراک کننده گان مطرح شدند، مطابق قوانین نافذه کشور رسیده گی کنند.

معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی، ضمن ابراز سپاس و قدردانی از کمک‌های همیشگی موسسه محترم «جی‌آی‌زی» بر اهمیت برگزاری چنین کنفرانس‌ها تاکید ورزیده و از دست‌اندرکاران این موسسه خواست که هر سه ماه در برگزاری کنفرانس هماهنگی گذاشته شده است.

آقای فرملی، به مسوولان



مسوولان انستیتوت‌های تعلیمات تخنیکی و مسلکی مرکز و ولایات، همکاری نماید.

هم‌چنان پوهندوی رحیل‌محمد فرملی، معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی نمایشگاه نقاشی انستیتوت هنرهای زیبا و صنایع را افتتاح کرد.

در این نمایشگاه تابلوهای نقاشی شده از کارهای صنفی محصلان انستیتوت نامبرده، به نمایش انستیتوت هنرهای زیبا و صنایع هدایت داد تا هر چه زودتر در ایجاد یک نمایشگاه نقاشی دایمی که در آن آثار خلق شده‌ی محصلان این انستیتوت به نمایش گذاشته شوند، اقدام نمایند؛ تا از یک طرف سبب ترویج هنر نقاشی در جامعه شود و از سوی دیگر نقاشی‌های خلق شده‌ی محصلان به فروش برسند.

## د لوګر له څلورو لیسو سره د لمریزو تختو مرسته وشوه

د لوګر ولایت د نجونو له څلورو لیسو سره د ایشیا فونډېشن له لخوا د لمریزو تختو، بیټریو او برقي وسایلو مرسته وشوه.



دغه مرسته د بي بي آمنې، محمدآغې، خوشۍ او د بره کي راجان د نجونو له لیسو سره شوې، چې ټول ارزښت یې ۳۲۰۰ امریکایي ډالره ښودل شوی دی.

په دې مرسته کې هرې لیسې ته د ۸ سوه امریکایي ډالرو په ارزښت دوه تختې سولر، دوه بیټرۍ، او نهه قلمه نور د لمریزو تختو پورې تړلي بریښنایي وسایل ورکړل شوي دي.

له یادو وسایلو څخه به زده کوونکو ته د کانکور د تیاري په روزنیزو پروګرامونو کې د ښوونیزو برقي وسایلو په روښانولو کې کار واخیستل شي.

د یادونې وړده، چې د ایشیا فونډېشن تیر کال هم له نومړو لیسو سره د لمریزو تختو، بیټریواو بریښنایي وسایلو مرسته کړې وه.

## سنگ تهداب ریاست معارف ولایت بغلان گذاشته شد

سنگ تهداب ریاست معارف ولایت بغلان که ۳۰ دفتر کاری را در بر خواهد داشت به هزینه شانزده و نیم میلیون افغانی به کمک مالی بانک جهانی گذاشته شد. غلام محی الدین پیکان حیدری از مشکلات که سد راه کار وفعالیت ریاست معارف بغلان موجود بود یاد آوری کرده گفتند: فاصله بین ریاست معارف و واحد های اداری آن باعث کندی روند اجرایی این اداره گردیده بود که با اعمار این ساختمان نه تنها مشکلات ما ازین ناحیه مرفوع می گردد بلکه مبلغ یک و نیم میلیون افغانی را که سالانه از درک کرایه اداره های مربوطه می پرداختیم صرفه جویی میگردد.

## سجادیه تخنیکي او مسلکي زده کړو انستیتوت ته نوې ودانۍ جوړېږي

د بلخ ولایت مرکز مزار شریف ښار کې د سجادیه تخنیکي او مسلکي زده کړو انستیتیوت د جوړېدو چارې د یو لړ مراسمو په ترڅ کې پیل شوې.

د یاد انستیتوت د بنسټ ډبره د اجراییه ریاست د دویم مرستیال محمد محقق، د بلخ ولایتي چارواکو، د پوهنې ریاست مسوولینو، ښوونکو او زده کوونکو په ګډون کېښودل شوه.

دانستیتوت نوې ودانۍ په هغه څلور جریبه ځمکه کې په پاخه او اساسي ډول جوړېږي، چې د سیمې د خلکو لخوا معارف ته ډالۍ شوې ده.

دغه ودانۍ چې په راتلونکو ۱۸ میاشتو کې یې د جوړېدو چارې سر ته رسیږي، ۱۶ درسي ټولګي، ۸ اداري خونې او نورې اړوندې ټولې ښوونیزې اسانتیاوې به ولري.

د یادولو وړ ده، چې په یاد انستیتوت کې دا مهاَل ۳۷۰ تنه په بېلابېلو تخنیکي او مسلکي څانګو کې پر زده کړو بوخت دي، چې د نوې ودانۍ له جوړېدو سره به ورته خوندي تدریسي چاپېریال برابر شي.

## کندهار کې د ۲۰ ښوونځیو د ترمیم چارې پیل شوې

د کندهار ولایت په مرکز او ولسوالیو کې د ۱۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۲۰ بابه ښوونځیو د بیارغولو او ترمیم بودیجې ترمیم او بیارغول کېږي او ددې ترڅنګ به د یو شمېر نورو ښوونځیو د بیارغولو چارې هم پیل شي. نومړې



چارې د مرستیال والي عبدالحنان منیب، د کندهار د پوهنې رییس عبدالقادر پیوستون او یو شمېر نورو چارواکو لخوا پیل شوې.

دغه لړۍ د کندهار د مرکز له افغان سیدجمال الدین عالي لیسې پیل شوه او د روان مالي کاَل تر پایه به د ټولو ښوونځیو د ترمیم چارې پای ته ورسیږي.

د پوهنې رییس ښاغلي پیوستون وویل، چې دغه ۲۰ ښوونځي د پوهنې ریاست له پرمختایي دغه راز وویل، چې په روان ښوونیز کاَل کې به ټرلي ۴۷ ښوونځي هم د زده کوونکو پرمخ پرانېستل شي، چې په ترڅ کې به یې د یاد ولایت زرګونه زده کوونکو ته د بیا زده کړو اسانتیاوې برابرې شي.

ښاغلي پیوستون یادونه وکړه، چې په نژدې راتلونکي کې به د ۶ میلیونه افغانیو په ارزښت د کندهار ښوونځیو ته قرطاسیه او فرشونه هم وویشي.

مسوول مدیر: محمد نسیم "عیاذ"
کتنپلاوي: محمد کبیر حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان
عبدالصبور غفراني - سرمؤلف مرستیال عنایت الله عادل - محمد اکرم وفادار
خبریال: - محمد اشرف رسولي
کمپوز و ډیزاین بریالی رحمانزی
شمیر: ۵۰۰۰
دیجیتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)
ایمیل: marif.newspaper.moe@gmail.com
پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت